مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان　　　　　　　　　۲۰۲۳/۰۲/۱۳

# غزل

څوک وايي د يار بې رخي هيڅ نه ده؟
زه يې ان تر روحه پورې مړ کړمه!

نيمه شپه شوه هوښ مې له درد وبايلود
ياد دې شوګيرو ته دا شان پړ کړمه

ستا غزالي سترګې مې ژوندون ګانه
واوښتي له ما نه خپل ژوند شړ کړمه

سترګې نظر؛ اوښکې بانه واړه ملامته دي
څنګه يې د يار په در کې خړ کړمه

زړه مې ګواهي ستا حق کې نه وايي!
ولې دې پښتون زړګي ته وړ کړمه؟

۲۹ /۴/ ۲۰۲۱ جلالکوټ
سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ